# Global Storybooks

globalstorybooks.net


## اینځر ګل


Lesley Koyi
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid



This work is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0


# اینځر ګل




Lesley Koyi
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid


5

پښتو ps



د کینیا پلازمینه نیروبي ته اړوند په یوې سیمه کې بې کوره ځوانانو ژوند کاوه. دوی هره ورځ به له بیکارۍ سره پیلوله او دشپې به په سړکونو ویده کیدل، د شپې به یې یخ هم کیده. انځر ګل چې له نورو ځوانانو سره ګډ اوسېده په ګډه به یې کثافات او له کاره لویدلي توکي د ځان تودولو په خاطر راوړل، چې ځانونه پرې ګرم کړي.



کله چې د انځرګل مور او پلار مړه شول، هغه مهال دی
پنځه کلن واو له خپل تره سره یو ځای اوسېده، خو تره
یې سمه پالنه نه کوله، سم خوراک به یې نه ورکوه،
چلند یې ورسره ښه نه و، ان تر دې چې انځر ګل
مجبور شو چې سخت او درانده کارونه وکړي.



کله به چې انځرګل کوم شکایت وکړ، تره به یې واهه، د
ښوونځي څخه یې منع کړی و، تل به یې تحقیروه،
ورته ویل به یې چې، “ته ساده یې په هېڅ نه پوهیږې.”
بلاخره داسې ورځې ته یې مجبور کړ، چې له تره
وتښتي او په صحرا کې ژوند وکړي.





انځرګل د آبي چت لرونکي کور په انګړ کې ناست و، د
ښوونځي د کیسې کتاب یې لوستلو. په دې وخت کې
صمیم راغئ، او د هغه څنګ ته کښېناست. صمیم
ترې وپوښتل”د څه په اړه کیسه ده؟” انځرګل ځواب
ورکړ: “دا د یوه هلک په اړه ده چې څنګه ترې یو
ښوونکی جوړېږي.” صمیم ترې وپوښتل “د هلک نوم
څه دی؟”. انځرګل په خندا سره ځواب ورکړ”د هغه نوم
انځرګل دی”.





. د سړکونو پر غاړه به ده ته ژوند ډير ستونزمن و، د ده
په څير نورو هلکانو به هم د يو څه خوراک لاسته راوړلو
لپاره هڅه کوله، ژوند ېپ تريخ و، کله کله به د دې ډلې
څخه به چې يو ځوان ناور غ شو او د مرستې لپاره به
ېې هېڅوک نه لرل. داسې وخت به هم و چې له بل چا
به ېې لږې پيسې پور کړې، د سړک پر غاړه به ېې
پلاستيکونه را ټولول او بيا به ېې پلورل.





انځرګل ښوونځی پيل کړ، هغه ته دا ډېره ستونزمنه وه.
هغه ډېرو شيانو زده کولو ته اړتيا درلوده. ځينې وختونه
هغه غوښتل چې تسليم شي. مګر هغه د کيسو په
کتابونو کې د پيلوټ او د فوټبال د لوبغاړي په اړه ډېر
څه زده کړي و. د دوی په څير، انځرګل هم تسليم نه
شو او د ژوند ښه کېدو لپاره ېې هلې ځلې پيل کړې.




يوه ورځ په داسې حال کې چې انځرګل د کثافاتو يوه کڅوړه پلټله، د کيسو يو زوړ کتاب وموند. او په خپلې بوجۍ کې يې واچولو. له دې وروسته به هغه هره ورځ همدا کتاب را ايستلو او يوازې تصويرونو ته به يې کتل ځکه ښوونځي يې لوستی نه و، چې کتاب ولولي.





او بالاخره، انځرګل په آبي چت لرونکي کور کې يوې کوټې ته وکوچېده. په دې کوټه کې دوه نور هلکان له ده سره يو ځای اوسېدل. په دې کور کې ټول لس ماشومان اوسېدل. زرينه ترور، د هغې مېړه، درې سپي، يوه پيشو، او يوه وزه هم اوسېدله.



په تصویرونو کې د یوه ځوان هلک کیسه بیان شوې
وه، چې څنګه پیلوټ شو. د انځرګل په ذهن کې به هم
دا خبره ګرځېدله چې پیلوټ شي او موخو ته ورسیږي،
ان تر دې چې ځینې وخت به یې فکر کوه چې د کیسې
اصلي کرکټر دی خپله دی.





هغه خپله ویره د صمیم سره شریکه کړه. د وخت په
تېرېدو سره دې سړي هلک ته ډاډ ورکړ چې په نوي
ځای کې به ژوند کیدای شي ډېر ښه شي.



یوه ورځ چې هوا ډیره سړه وه، انځرګل د سړک پرغاړه ولاړ و، څنګ ته یې یو ځوان ودرېده. د سلام کلام وروسته یې وویل “زه صمیم یم او د کار ځای مې همدلته نږدی دی.” پوهیږم چې خوراک ته اړتیا لرئ، د دې خبرې په کولو سره صمیم د لاس په اشاره ژیړ کور ته وکتل، او زیاته یې کړه، “انځرګله ورشه او همدې ځای کې به تاته د خوراک لپاره یو څه په لاس درشي.” انځرګل اول دې سړي ته وکتل، شیبه وروسته یې مخامخ ژیړ کور تر سترګو تیر کړ. بیا یې زیاته کړه، “شاید همداسې یو څه وي او حرکت یې وکړ.”





انځرګل نوي ځای او ښوونځي ته د تللو فکر وکړ، خو د تره خبرې یې په زړه کې ګرځیدې، چې تل به یې ورته ویل “ته تنبل یې، په څه نه پوهېږي.” د انځر ګل ذهنیت ښوونځي ویلو ته اماده نه و او د سړک د غاړې ژوند یې غوره ګاڼه.



کله کله به صمیم د انځرګل په ګېون له نورو بې کوره هلکانو سره لیدل. صمیم به د دوی کیسې اورېدې او د هغو خلکو سره به یې زړه سوی درلود چې کور نه لري، او د سړک پر غاړه ژوند کوي، هغه یو ډېر مهربانه او با ادبه ځوان و.





د انځرګل په لسمه کلیزه کې، صمیم هغه ته د کیسې یو نوی کتاب ورکړ. دا د یوه کلي د هلک کیسه وه چې ځنګه ترې د فوټبال مشهور لوبغاړی جوړ شوی و. صمیم دا کیسه څو ځله انځرګل ته ولوستله، تر دې چې یوه ورځ یې ورته وویل: "زه فکر کوم دا هغه وخت دی چې ته باید ښوونځي ته ولاړ شې او لوستل زده کړې، ته څه فکر کوې؟" صمیم دا هم ورته وویل، "چې هغه ته یو داسې ځای معلوم دی، چې ماشومان پکې پاتې کیدی شي او هم ښوونځي لوستلی شي."



انځر ګل د سړک پرغاړه ناست و او د کتاب پاڼې یې اړولې، صمیم هم د ده تر څنګ کښیناسته او ترې وپې پوښتل، "دا کیسه د څه په اړه ده" انځرګل په ځواب کې ورته وویل: "د هغه ځوان په اړه ده چې د ژوند له ناخوالو سره مبارزه کوي او بلاخره پیلوټ کېږي."
صمیم په خبره کې ور ولوید "د هلک نوم څه دی؟"
انځرګل وویل "زه لیک نه شم لوستلای او نه پوهیږم چې د هلک نوم څه دی."





د دوی په دې لیدنه کې، انځرګل د خپل ژوند کیسه صمیم ته پیل کړه. هغه د خپل تره کیسه ورته وکړه، او داچې دی ولې له کوره وتښتېده. صمیم ډیرې خبرې نه کولې، او نه به یې انځرګل ده ته څه ویل چې څه وکړي، مګر هغه به تل د انځرګل خبرې په غور سره اورېدلې. ځینې وختونه به دوی په آبي چت لرونکي کور کې د ډوډۍ خوړلو پر مهال هم کیسې کولې او د زړونو بړاس به یې ویستلو.